مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند
۲۰۱۸/۰۹/۱۷

# د بېکسیار د ډک زړه څپې

# او

# «لکه خوب هسې وختونه»

## (د عبدالمالک بېکسیار د ژوند او شاعرۍ لنډ جاج)

### دریمه برخه

لکه څنګه چې مخکې هم وویل شول چې په دې مقاله کې زه یوازې د بیکسیار «لکه خوب هغه وختونه» ټولګه باندي غږېږم.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ما دغه ټولګه په ډېر دقت سره ولوستله، په لومړي ګام کې مې هغه شعري انځورونه په نښه کړل چې یا ما ته نوي وو او یا مې د دې له پاره ډېر خوښ شول چې بیکسیار په نوې بڼه او خپل ستایل کارولي دي. د یادو انځورونو ځو بیلګې دا دي:

**ـ د چا له یاد سره غږېدل،**

**ـ د خیال د خوني ځنځیر،**

**ـ په کوڅه کې د اشنا خیال،**

**ـ د کوترو بنډار،**

**ـ د شوتلې ورېم،**

**ـ ونې ته ژړل،**

**ـ د ناوې شپېلۍ (د اوبو ناوه)،**

**ـ د سنځلو د ګل ګونګه ترانه،**

**ـ د ورېمي ښکالو،**

**ـ ښاخ له باد سره غږېدل،**

**ـ د وړانګو سیالي،**

**ـ مړاوې کاته،**

**ـ د موسکاوو جنازه،**

**ـ د وسواس دروازه،**

**ـ هوس ته قیضه اچول،**

**ـ د احساس مالګه،**

**ـ د غم تربور،**

**ـ د کرکې ښار،**

**ـ د زړه په کور کې فریاد میلمه کول،**

**ـ په توبو کې د اور شیندل،**

**ـ رنګړی پل،**

**ـ مات سیوری،**

**ـ پر ښکلو باندې عریضه کول،**

**ـ د کتاب زړه،**

**ـ د مسک نظر باران،**

**ـ د ځوانیمرګو هیلو لو،**

**ـ خیال د غره پر سر دېره کول،**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ د ممانو جنازې،

ـ د باغ وروستی سلګی،

ـ د پانو جنازې،

ـ د زانو جنازې،

ـ رنګړی سیوری،

ـ د اوښکو زلزله،

ـ د زړه بازار،

ـ د هجر سیلی،

ـ «د وچ لښتي د اوبو ګونګه زمزمه لیکمه...»،

ـ د سترګو د غزل مقدمه،

ـ او...

او په سلګونو دې ته ورته نور شعري انځورونه.

## د شعرونو سرلیکونه:

د بیکسیار په «لکه خوب هغه وختونه» ټولګه کې تقریباً پنځه نوي سلنه شعرونو ته د «غزل» سرلیک ورکړی دی. زما له نظره که ده هر شعر ته جلا شاعرانه سرلیک ټاکلی وای، له یو لوري نه به ډیر په زړه پوري و او بل لوري به لوستونکي د هر جلا جالب سرلیک په لیدلو سره د شعر لوستلو ته نور هم تشویقیدل او تلوسه به یې ډیریده. ما ولیدل چې د بیکسیار په هر شعر کې دننه داسي کلمې او جملې موجودې دي چې د هماغه شعر له پاره داسي ښه سر لیک کیدای شي چې د ټول شعر مفهوم هم افاده کولا شي. لکه:

د ټولګې په ۱۲۰ ام مخ کې راوړل شوي شعر سرلیک که «څواب به څه ووایم؟» وای، ډیر به په زړه پوري و. یا که د ۱۱۸ ام مخ شعر ته د «چا سره پر لاره ځم؟» سرلیک ټاکل شوی وای، څومره به جالب وای. بیا هم «د هر چا خپله، خپله خوښه...»

## د ردیفونو اوږدوالی:

د بیکسیار په دې شعري ټولګه (لکه خوب هغه وختونه) کې یو بل څه چې زما توجه جلب کړه، هغه د ردیفونو اوږد والی و. د ده په شاعری کې د اوږدو ردیفونو بیلګې ډیرې دي. غوره نمونې یې د دې ټولګې په لاندې مخونو کې راغلي دي:

۳۶ ـ ۳۷ ـ ۷۵ ـ ۸۱ ـ ۹۳ ـ ۹۴ ـ ۹۸ـ ۱۱۶ ـ ۱۲۳ ـ ۱۳۷ او ...

څو بیلګې یې په لاندې ډول دي:

یار را رضا به شي، څه نن څه سبا
بیرته زما به شي، څه نن څه سبا

زما وطن کې نا روا چې مینه
بیرته روا به شي څه نن څه سبا

(لکه خوب هغه وختونه، ۳۶ ام مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

بیرته به اسمان شي شین، زړه ته خو مې نه لویږي
بیا به هغه شان شي شین، زړه ته خو مې نه لویږي

شاړو د امید کې به، دښتو د حسرت کې به
بیا کله ارمان شي شین، زړه ته خو مې نه لویږي

(لکه خوب هغه وختونه، ۷۵ ام مخ)

اوس هغه اور نه په رباب نه په نغمه کې شته دی
د مینې شور نه په رباب نه په نغمه کې شته دی

د یار په یو وار سندریز کاته کې ځومره جوتې
هومره ټکور نه په رباب نه په نغمه کې شته دی

(لکه خوب هغه وختونه، ۴۹ ام مخ)

اوږده ردیفونه د پخوانیو شاعرانو په شعرونو کې ډیر لږ لیدل شوي دي. یوه بیلګه یې ما لا پخوا د خوشال پیژندنې د مضمون د تدریس په وخت کې په نښه کړې وه، دا یې دوه بیتونه دي:

له حاله یې خبر شه! که شته ـ شته، که نه شته، نه شته
قلاش و قلندر شه! که شته ـ شته، که نه شته، نه شته

که لره ده که دیره، واړه ونیسه په تیره
په خوی د پیغمبر شه! که شته ـ شته، که نه شته، نه شته

(خټک خوشال، د خوشال خان خټک کلیات، اوډنه ـ پرتلنه ـ سمون او ویپانګه د عبدالقیوم زاهد مشواني، خپرندوی: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ ل / ۲۰۰۵ ز کال، ۲۰۰ ام مخ)

پوهاند ډوکتور زیار په خپل، پښتو بدلمېچ (پښتو شعر څنګه جوړیږي؟)، نومي اثر کې د ردیف او بیا د اوږدو ردیفونو په باب لنډ، خو جالب بحث لري. دا یې یوه برخه ده:

«لړ یا ردیف هغه ویی یا وییغوند، غونډله یا غونډله غونډ دی چې تر قافیې وروسته په هماغه یوه جوله او مانا، په اړوند شعري څېل کې تر پایه راغبرګېږي. لکه له مخه یې چې یادونه وشوه، په قافیوال شعر کې د دغې برخې زیاتونه،، د عربو نه، بلکې د عجمو (پارسیوانو) نوښت بلل شوی او موخه یې د لا ښه ترا تول و تال، په بله وینا، موسیقیت سمبالتیا انګېرل کیږي.
ردیف ته د قافیې د یوه پایځور په سترګه کتل کېږي او په دې توګه که له پښیلي سره لړ یا ردیف ونښلول شي، لړواله پښیله (مردفه قافیه) بلل کېږي.
... د ردیف ډیر اوږدوالی هسې یو ډول او فیشن دی او تل خوندور نه پرېوځي. په کلاسیک پېر کې یې له ستر خوشال پرته د نورو په هغو کې دومره اوږدې بیلګې نه لیدل کیږي، مګر په ننۍ غزل کې بیخي دود و مود، یا ډول و فیشن ګرځېدلې او ځینې لا ترې د کار اسانۍ لپاره کار اخلي.»

(زیار، مجاور احمد، پښتو بدلمېچ (پښتو شعر څنګه جوړیږي؟)، دانش خپرندویه ټولنه، دویم چاپ، ۹۳ ام مخ)

ما د تیلیفون له لارې د اوږدو ردیفونو د سابقې په باب خبره له استاد هوتک سره هم شریکه کړه، هغوی داسې وویل:
«کېدای شي، خو زما له نظره نه ده تیره شوې.»
استاد هوتک دا هم زیاته کړه چې اصلاً ردیف د عجمو اختراع ده او پښتو ژبې ته له فارسي نه راغلی دی. د مقفی شاعرۍ پیروان او پلویان داسې عقیده لري چې ردیف د شاعرۍ له پاره یوه تکیه ګاه ده، لکه کوم چت ته چې ستن ودرول شي. خو تجربې دا ثابته کړې ده چې که ردیف لنډ وي، د شعر ښېګنه ده او د شعر په کمالاتو کې شمیرل کیږي.
اوږد ردیف لوستونکي ستړي کوي، که کوم عربي شعر ردیف ولري، نو هغه به د کوم عجم شاعري وي، نه د عرب شاعري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پاسنيو نظرياتو په رڼا کې ويلای شو چې که اوږده رديفونه شعر ته ښکلا او موسيقيت وربښي، نو د شعر او شاعر په ښيګڼو کې راتلای شي او پرته له هغه په شعر کې د کلماتو او ويونو بيا، بيا تکرار د شعر خوند او ارزښت کموي.




د دريمې برخې پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ